خوشحال آصفي
۰۴/۰۱/۲۰۱۶

د کورنيو جبهو له لوري د سولې پروسې د سبوتاژ هڅې

د څو لسيزو راهيسې په افغانستان کې د آی ايس آی، د پاکستان د پوځ، د ايران او ځينې نورو کړيو له لوري د جنګ ډګر ګرم ساتل شوی دی. که څه هم دلته د وخت هر واکمن ولسمشر په يو نه يو ډول په افغانستان کې د سولې هڅې کړې دي خو پايله يې منفي وه. علت يې دا دی چې آی ايس آی، د پاکستان پوځ، ايران او نورې استخباراتي کړۍ خپلو افغاني او بهرني لاسپوڅو ډلو ته د جګړې د رواني ساتلو لپاره په وجود کې انرژي تقويه کوي. دوی ته د وخت سره سم او په عصري تکنالوجی سمبال د جنګ ابزار ورکول کيږي. د دوی مالي او معنوي ملاتړ کيږي. خو کله چې ځينې جګړه ماري ډلې له جګړې لاس اخلي، نو له هغوی څخه هغوی چې توپک په ځمکه ږدي او سوله ايز ژوند غواړي نو بيا د همدغو جنګ غوښتونکو هيوادونو لخوا، ځينې وژل کيږي، زنداني کيږي او ترور کيږي چې ښې بيلګې يې په پاکستان کې د طالب مشرانو وژل کيدل، بندي کيدل او ترور کيدل دي. خو ځينې نور يې بيا لکه کبار شوي وسپنه او پلاستيک ويلي کيږي، او په يو بل شکل ترې ګټه اخيستل کيږي.
اوس يو ځل بيا د افغان حکومت له لوري د سولې په تپه دريدلې خبرې ګرمې شوې دي. نه يوازې افغان لوری بلکه دا ځل په دې معامله کې د پاکستان تر څنګ امريکا او چين هم ښکېل دي. افغان حکومت پاکستان ته تر دې وړاندې هم، درې لسيزې باج ورکړی، او په يو نه يو ډول په يو طرفه امتيازاتو هم نازول شوی دی خو پاکستان يې په مقابل کې افغان حکومت په تشو ژمنو غولولی او له نړيوالو يې هم امتياز ترلاسه کړی دی.
دلته د حامد کرزي له حکومت وروسته د اشرف غني او عبدالله تر منځ د ګډ حکومت په رامنځته کيدو سره د غني د ډيرو هڅو او مذو ترڅو په نتيجه کې پاکستان دې ته حاضر شو چې د افغان طالبانو په مشرۍ څو کسان د افغان حکومت د استازو سره د ميز پر سر د سولې د خبرو لپاره کينوي.لومړی پراو ترسره شو خو دويم پراو د ملا عمر د مرګ له اعلان وروسته تر ننه په تپه دريدلی دی. دلته اساسي ستونزه يوازې دا نه ده چې ځينې بهرنۍ کړۍ د سولې د دويم پراو پر وړاندې خنډونه جوړوي بلکه ځينې کورنۍ کړۍ هم شته چې په جنګ کې خپلې موخې، ګټې او خپل سياسي ژوند وينې او نه غواړي چې له طالب سره سوله وشي.
دلته ځينې جبهې دي چې نه غواړي د طالبانو سره سوله وشي ځکه د دوی ګټو او اهدافو ته طالبان ډير لوی خطر دی او دوی هيڅکله دې خطر منلو ته تياري ندي. دغه کړۍ په دې فکر کې دي که سوله وشي نو طالبان به هم د افغانستان د حکومت په چوکاټ کې راداخل شي. او طالبان هغه څوک دي چې د هرڅه نه مخکې غواړي د ځينو جبهو سره حساب وکړي. طالبان ځکه له دغو جبهو سره عقده لري چې ددوی نظام يې د بهرنيانو په مرسته له پښو وغورځاوه.
دا څرګنده خبره ده چې د افغانستان په شان د يو جنګ ځپلي هيواد سوله دوه کورنۍ او بهرني اړخونه لري. د افغانستان په څېر هيواد کې سوله بايد لومړی له کورنۍ اړخ سره وشي ځکه همدا کورنۍ اړخ دی چې د بهرني اړخ لپاره د ملا د تير حيثيت لري. که چيرې کورنۍ اړخ له پامه وغورځولی شي او له بهرني اړخ سره خبرې کيږي نو دا به بيا يوه موقتي او نمايشي سوله وي چې ډير ژر به خپل ماهيت له لاسه ورکړي.
که افغان دولت غواړي چې افغان ولس د يوې ربښتونې، سرتاسري او دايمي سولې څښتن شي نو بايد لومړی د سولې پر وړاندې کورنۍ خنډونه له منځه يوسي او بيا په بهرني اړخ کار وکړي. د دې تر څنګ افغان دولت بايد د سولې عالي شورا په اوسني جوړښت ، ميکانيزم او ستراتيژۍ کې هم تغيرات راولي. ځکه اوسنۍ د سولې په نوم هسې د معاشاتو يا ځينو ته څوکۍ ورکړي په خاطر جوړه شوې شورا هيڅ ډول موثريت نه درلود او نه به يې ولري ځکه د دې شورا مکانيزم له پيله سم نه وو. همداراز سوله د نورو په سوال او هيله لرلو نه شي راتلی. سوله هغه وخت شوني ده چې ريښتونی افغاني رنګ ولري او له افغاني ادرسونو يې په اړه خبرې وشي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ